پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۸/۰۷

# د خوشال خان ختک آثار

## فراقنامه ، دویمه برخه

## خوشال پوهنه

## ۲۵

استاد زلمی هیوادمل د فراقنامې په مقدمه کې، د خوشال د فراقنامې د شکل او مضمون په برخه کې مفصل بحث کړی دی چې زه یې خلاصه را اخلم:
«... د فراقنامې په موجود متن کې د شکل له پلوه لاندې شعري انواع موجود دي:

### ۱ ـ غزلې:

د فراقنامې د موجود متن زیاتره برخه غزلې دي. په دغه برخه کې ټولې ۲۴ غزلې دي، له دغو ۲۴ غزلو څخه ۲۳ غزلې د خان په کلیات کې هم شته او یوازې یوه غزل په کې داسې ده چې د خوشحال په بل اثر کې نه ده لیدل شوې... د فراقنامې په ځینو غزلو کې ځینې داسې بیتونه موندل کیږي، چې د کلیات په نسخو کې نه شته او د فراقنامې د متن په وسیله بشپړیږي...

### ۲ ـ قصیدې:

په دې اثر کې د خان یوه دوه ویشت بیتیزه قصیده هم خوندي ده چې البته د کلیات په نسخو کې هم شته.

### ۳ ـ ټوټې:

په فراقنامه کې د خان دوې ټوټې هم راغلې دي، چې له دغو دوو ټوټو څخه یوه ټوټه چې: «هنر د بزرگی درخخه نه وي» د خوشحال په دستارنامه کې راغلې او بله مې یې چیرې نه ده لیدلې، دواړه ټوټې اته (۸) بیته دي.

### ۴ ـ څلوریزې:

په دې کتاب کې د خان دوې څلوریزې هم راغلې چې د پښتو ټولنې له خوا «د خوشحال رباعیات» په چاپ شوي کتاب کې ما پیدا نه شواې کړای.

### ۵ ـ فردونه:

په دغه متن کې درې فردونه هم راغلي دي، خو په دې شرط که دغه فردونه د بشپړو غزلو مطلع یا مقطع نه وي.

### ۶ ـ نیمګړې غزلې:

په فراقنامه کې د خان دوې نیمګړې غزلې هم شته، چې بشپړ متن مې یې د خوشحال په نورو آثارو کې د لټون سره، سره و نه موند.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## ۷ ـ مثنوي:

د فراقنامې کافي زياته برخه مثنوي ده، د مثنوي ځينې معدودې برخې يې په دستارنامه او تاريخ مرصع کې هم راغلي دي. د فراقنامې ټول بيتونه «۸۳۷» بيتونه کيږي، چې لوړ شعري اقسام په کې شامل دي.»

(ختک خوشال خان، فراق نامه، د راحت زاخيلي د زوکړې د سلمې کليزې په وياړ د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي خپرونه، ۱۳۶۳ کال، د استاد زلمي هيوادمل مقدمه، اوه ويشتم او اته ويشتم مخونه)

دغه راز استاد زلمي هيواد مل د فراقنامې د محتوا يا مضمون په باب هم بحث کړی دی، چې په يوه برخه کې يې داسې راغلي دي:

«... د فراقنامې دغه کوچنۍ شعري مجموعه هم د مضمون له پلوه ډيره شتمنه ده. په دې مجموعه (کې) د موضوع غنا يوه بله خاصه هم لري او هغه دا چې مختلف موضوعات په ډير سوځوونکي انداز کې بيان شوي دي او د غمجن زړه ارمانونو د شاعر د شعر ځپې طوفاني کړې دي.»

(ختک خوشال خان، فراق نامه، د راحت زاخيلي د زوکړې د سلمې کليزې په وياړ د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي خپرونه، ۱۳۶۳ کال، د استاد زلمي هيوادمل مقدمه، نه ويشتم او ديرشم مخونه)

زما له نظره د خوشال فراقنامه د اوسنيو نومونو له مخې کېدای شي د نستالژې يوه پر سوزه ټولګه وبلل شي. له پيل نه تر پايه د خپل وطن، کلي، کور، کورنۍ اولادونو، دوستانو او نورو له ده سره اړوند خلکو او سيمو پسې نليږي او افسوس ورپسې کوي.

دغه راز خوشال په فراقنامه کې د شکايتونو تر څنګ عرفاني مضامين، توره او ميړنتوب، له ښکلو سره مينه او رندانه مسايل، اخلاقي ويناوې او پندونه، له خپلې وطن او خلکو سره مينه، له خپل بل ذوق يعني ښکار يادونه، او د وخت د سياسي او ټولنيزو مسايلو يادونه کوي. دغه راز که د فراقنامې متن په غور سره ولوستل شي، د خوشال د انتقادي ژبې ښې بېلګې په کې تر سترګو کېدای شي.

له فراقنامې څخه دغو څو بيتونو ته پام وکړئ، چې د خوشال د زړه پولې ښې په کې ځلېږي:

هغه باد چې کابل خيز دی
پر ما واړه عنبر بيز دی

خوک چې ياد کاندي کابل
په ګوګل مې شي غلغل

خوک چې ياد کا پيښور
زړه زما شي منور

خوک چې ياد کاندي اټک
قافيه کړم د ختک

چې پښتون را ته خوک ياد کا
پرې خوشال شم زړه مې ښاد کا

د دې خوشې مُلک هر څه شته
خو پښتون، پښتنې نه شته

چې بيدار وم، په دا ځای وم
چې اوده شم، نور په سرای وم

په ويښوالي په زنځير وم
په اودوالي په کشمير وم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خو چې سترګې وبله کیږدم
په خپل ځای وم، دا ځای پریږدم

واړه جېټ سره ویل کړم
واړه باز وته کتل کړم

زړه مې حظ له صدره مومي
زر، زر راشي زر، زر درومي

راته ناست د بابا دل وي
یا په کبنل یا په لوستل وي

که سکندر وي که ګوهر وي
راته واړه جلوه ګر وي

په خوب واړه هغه شان وي
پرې مې درست خاطر نشان وي

چې له خوبه نه بیدار شم
بیا له عمره نه ویزار شم

نه مې زویه، نه مې ورونه
نه کورونه وي، نه لونه

نه آسونه، نه بازونه
نه خبرې، نه رازونه

نه مې ګشت وي، نه ښکارونه
نه په سرای کې نور کارونه

یکتنها په کټ کې پروت یم
بندیوان د هند د کوټ یم...»

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۶۷۰ ـ ۶۷۱ مخونه)

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ